

جزیکا پیورکاس




کیول  فیلد نک سمت

***لیکونکی :***   : ابی کیول فیلد نک سمت او جیزیکا پیورکا س

***منبع  او دخپرولو نیټه*** :: گلوبال ریسرچ«7-10-2018» .

***ژباړونکی*** : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---

# یوه ورځ په افغانستان کې

## *one  day  in   Afghanistan*



*لمرنی مرینه ډیر زر د نیمی شپی  په وروستیو کی رامینځته شوچی هغه  یو پولیس وه کوم چی د تاجکستا ن  پولی ته نژدی  په هغه شپه کی  خپل ژوند د لاسه  ورکړ  او وینی بهید نه بیا ترلمر ختو پوری دوام وکړ او وروسته بیا  پای ته ورسید .*

*په یوه ښونځی کی دری غلا  (سرقت) اودما زپیښین وروسته دیولس نیمو بجو(11.30) په شاوخواکی یو هوایی یرغل ترسره شویعنی د جون د میا شتی د یرشمه  (30) له خشونته*

ډ ک اواخرنی ورځ وه کوم چې هغه پخپله دیوغیر قانونی سیا سی تروروورځ وه چې د قتل ، تیپی کید و ، ګولی چلولو ، انفجا ر ورکولو او هوایی حملو سره یوځای وه ، دغه ورځ نورو تولو ته بی د هغو کورنیو کوم چې دهغو د کورنی غړی مړ شوی وه یا په دی ورځ کی تپی شوی وه دجګړی یوه عادی ورځ بلل کیدل .

د یا دونو وړ مطلب دا چی دغه شخړیز ورځ د نړیوالو څخه بلکل هیره شوی ورځ وه یعنی چی په دی ورځ کی دافغانستان په لویو ښارونوکی کوم مهم بریدونه یا یرغل یا داچی داسی کوم یو ډیر مهم جنګونه یا نا ورین راوړونکي هوایی یرغل نه دی ترسره شوی بلکه هغوی ته یواځی یوه عادی اود بی وقفی جنګ دورځوو په څیر یوه ورځ حسا بید له.

داکتوبر د میا شتی د اوومی (۷) نیتي دپیل څخه بیا په دی (۱۷) کالو کی کوم چی دامریکی د متحده ایالاتو نظا می ځواکونه اود هغه سره یوځای د امریکی نورمتحد ین د طا لبا نو ددولت درا نسکورولو د پا ره پر افغا نستا ن با ندی یرغل راوړل نو بیا له همغی ورځی څخه لاتراوسه پوری دغه جګړه سره ددی چی د طالبانو دولت رانسکور شوی هم دی لا هم جګړه پا ی ته نه دی رسید لی .

پرا فغا نستا ن با ندی د مداخلی په کلونوکی دامریکی متحده ایالات اود ا نګلیس رهبران (زمونږ جګړه یا جنګ) په افغا نستا ن کی اعلام او پیل کړل ، کوم چی ددی هیوادونو اود هغوسره د نورو متحد ینو جګړه ما رو قوتونو په پر له پسی بڼی سره خپل جنګی ما موریتونه په دی هیواد کی تر سره کړل او لا تراوسه پوری خپل عملیا تونه تر سره کوي .

له یاده باید ونه ایستل شی او هغه داچی طا لبا نو بیاهم د جګړی د میدان څخه نه دی ترشا شوی او لاتراوسه پوری په همدی موده کی جنګید لی دی کوم چی هغوی یعنی طالبان اودهغوسره دمنطقی داسلامی دولت جنګیا لی وړه په وړه نن دا فغا نستا ن زیا تی برخی ترخپل ولکی لاندی راوستی دی او هم دجګړی په همدی موده کی دغیر نظا میا نو دتلفاتو په شمیر کی ډیر زیتوالی راغلی دی .

دجګړی له امله د بی ثبا تی اود بی تیکاو ماهیت په نظر کی نیولو سره دهیواد په کچه دتاوتریخوالی اندازه دومره زیا ته شوی کوم چی دڅیرنیزو ژورنا لیستا نو او د کتونو کو یواسطه سره داسی راپورونه رابرابر شوی دی کوم چی دتولو حملو راپورونه په یو لست کی سره فهرست شوی اما دغه مستند راپور لا تراوسه په نشر نه دی رسید لی کوم چی نن ورځ دجګړی یو ساعته انځور ورکړي .

دافغانستان د (۱۶) ولایاتو په سراسرکی د (۵۰) حملو په ترسره کولو سره کم تر کمه د(۶۰) نفرو دمړنی اود تپی کیدو داخرنی شیبو انځورونه په یوه ګذارش کی په پراخه بڼی سره توضیح کړل شوی دي کوم چی د هیواد په نیمایی برخه کی د هر ډول تاوتریخوالی پراخ لمنی کوم چی مونږ کولای شوهغه ډول تاوتریخوالی سره د یو څو انځورونو په کتو سر کوم چی دغزنی ولایات په ختیځ کی د پولیسو د ما موریت د اداری

څخه دباندی تر لاسه شوی دی آشنایی تر لاسه کړو اودا هغه څه دی چی د فراه ولایت په ولویدیز کی دطالبانو پر هستوګن ځای اویا مواضعو باندی هوایی یرغلونه ترسره شوی وه -دجون دیرشمه (۳۰) اوبیا په ځانګړی بنی سره دهغه ورځی بی ساری جګړه کوم چی د طا لبانو اود دولت تر مینځ د هغه غیر مترقبه دری ورځنی اوربند څخه را پیل شو یعنی هغه دری ورځنی اوربند کوم چی افغانانو دهعی ورځو انتظار ایستل او دتولو غوښتنه وه چی که دا ورځی نور هم زیا تی شی ځکه چی افغا نا نو له جګړی څخه زیا ت ستړی شوی دي .

**0,1** : د طا لبا نو جنګیا لیو **د د شت قلعه** یعنی د سیند په سهیلی کی چی افغا نستا ن له تاجکستا ن څخه بیلوی په سرحدی سیمه کی دسرحدی پولیسو پر پوستی باندی دشپی په وروستیو وخت کی برید ترسره کړل پولیسو د **چشمه ا یخا نم** ( Chashme e Aykhanam) ته نژدی دقوما ندی پوستی ته عقب نشینی و کړل اودځو ساعتونو دپاره دخپل دلاسه تللی موضع دبیرته تر لاسه کولودپاره ډیر هڅي اواند وکړکوم چی ددی جګړی په وخت کی دوه پولیسا نو خپل ژوند دلاسه ورکړل اودوه نور یی ټپیان شول ، شورشیا نو د پولیسو دوه همبی(Humvee) موټر او یو څه نور مهمات او تجهیزات دغنیمت په بڼه تر لاسه کړل اودیو خبری منبع په قول سره کوم چی هغه چندان د سیمی سره آشنا نه وه وویل چی شورشیا نو د ځا ن سره پنځه نفر نور برمته ویوړل .



مراد په کین اړخ او خواجه په ښی اړخ آنخورونو کی دی کوم چی دجګړی په وخت کی خپل ژوند دلاسه ورکړل

**0.2**: : طا لبا نو د نیمروز په ولایت دچخانسور پراولسوالی دپولیسو پر یو پوستی با ندی برید وکړل کوم چی ددی برید په ترڅ کی اوه (۷) پولیسا نو خپل ژوند دلاسه ورکړل اویوه بل پولیس پخپل لاس او ورانه کی ټپونه واخیستل .



د دویم برید په ترڅ کې د وژل شویو نومونو (د کيڼ څخه ښي خوا ته): سارج. الله داد، اسدالله، عبیدالله خان، خلیل، خلیل رخشیاني او حبیب الله. عبدالکریم هم مړ شو، خو موږ د هغه عکس نه لرو

05:40 د هلمند په سنګین ولسوالۍ کې د افغا ن پولیسو یوه ګزمې د درنو وسلو د زې وکړې.

06:45 د غزنی ولایت د قره باغ په ولسوالۍ کې یا غیا نو د افغا ن پولیسو د قوماندې پرپوستی با ندې د درنې وسلې د زی وکړل.

07:30 د پکتیکا ولایت د متاخان په ولسوالي کې، طالب جنګیالیو افغان محلي پولیسو ته زیان ورساوه، د هغه ګاونډي دفاعي ځواک چې د کورنیو چارو وزارت لخوا تمویلیږي. په وروستیو جګړو کې چې د یو ساعت لپاره دوام وکړ، درې پولیس - دولت خان، خان خان او باز محمد - ووژل شول. د سیمه ایزو پولیسو د رئیس په وینا، خان خان دوه لونې او یو زوی درلودل، د لسو کلنۍ څخه کم عمر درلود او په کورنۍ کې د ډوډۍ ګټونکی و



د متیا خان خان په کمین کي بازمحمد ، شادی خان او دولت خان ووژل شول

09.20 : د لوګر په ولایت کی دا فغا ن دځواکونو پر قواوو با ندی یو یرغل تر سره شو او بشپړه را څرګند نشو چي آیا دا یو مستقیم برید وه اویا داچی دسرک دغاړی دیو ایښودل شوی ما ین چا ودنه وه .

09.30: د بغلان ولایت په نهرین اولسوا لی کي داوروژنی له امله دیوشمیر چاروا کو په قول سره یو تن مړ شو چی دهغه په اړه دوه سیمیز خلک ونیول شو ل.

10.00 حاجی محمد نا در«نورزی» دتولنی دبیلا بیلو یوتن مخوراومشرچی د طا لبا نو اودحکومت ترمینځ دمینځګړیتوب دپاره یوپیژندل شوی کس وه نو هغه کله چی د نیمروز ولایت دلارام اولسوالی ته بیرته راستون کیده دنامعلومو اشخاصو پواسطه سره ووژل شو .

10.30 :دغزنی ولایت په لویه لاره کی افغان پولیس ددرنو وسلو تر ډزو لاندی پریوتل.

10.45: دافغان امنیتی ځواکونه دپکتیا ولایت د چمتا ل په اولسوا لی کی د درنو وسلو تر ډزولاندی راغی چی دهغه په ترخ کی یو سړی تپی شو او روغتون ته د درملنی د پاره ولیږل شو اوتر اخره پوری معلو نشو چی دا سړی ملکی وه اویا د امنیتی قواو پوری منسوب سړی وه.

10.50 : په ننګرهار کی یو افغان پولیس دګزمی وهلو په وخت کی د ا سلامی دولت دجګیا لیو تر برید لاندی پریوتل.

11.00:د خوست ولایت په ځا ځی میدان اولسوالی کي د ډ زوپه تبا د له کي دخوست د والی په وینا اوه نفر یاغیا ن اودری ملکی وګړی ووژل شول ، که څه هم یو بل چاروا کی دا مسله له سره رد کړ .

11.25: د لغما ن ولایت د علیشنګ په اولسوالی کی سیمیز پولیسو تر سخت ډ زی لاندی راغی اویو هیتوال چي ګلالی نومیده په پینه کی چی هغه کابل ته د زخم د درملنی د پا ره راوړل کیده په لاره کی مړ شو.

11.30 : دلوګر ولایت دچرخ په اولسوالی کي ددوو بیلا بیلو ګروپونو ترمینځ په ډزو کي (دولس) نفر خپل ژوند دلاسه ورکړل .

11.35: دغزنی ولایت داندړ په اولسوالی کي ددرنو وسلو ډ زی تر سره شو .

11.45: داندړ په اولسوالی کی افغا ن پوځ د درنو وسلو تر ډ زو لاندی پریوتل.

**12.10**: دکنړ ولایت دپیچ په اولسوالی کي چا ودیډ ونکی توکی کشف او شنډ کړل شو اوچاته کوم زیا ن ونه رسیدل .

12.30: یو پولیس د اسد الله په نوم چی د اولسوالی د محا فظ په صفت کار کول په بازار کی دیو موټر سیکل سوار په ډ زو سره ووژل شو .

**14.00** : دغزنی ولایت دآب بند په اولسوالی کی دوه یاغیان ووژل شول او دری نور ټپیا ن شول .

14.05 : د هلمند ولایت د گرشک په اولسوالی کِي دامریکی د هوایی قوتونو په حملی سره څلور یاغیا ن ووژل شول .


14.10 : دکنړ دپیچ په اولسوالی کي یاغیا نو د درنی وسلی ډ زی تر سره کړل .

14.30 : د کنړد پیچ په اولسوالی کي یو درووند چا ود نه ترسره شو چِي په هغه کِي دعبدالوحید په نوم یو سرتیری ټپی شو.

**14.50**: دوردک ولایت د سید آبا د په اولسوالی کي یو کاروان دیاغیا نو تر ډ زو لاندی راغي چي په هغه کی یو پولیس زخمی شو .

**15.00**: ددلارام په اوسوالی کی دخلکو اودپولیسو ترمینځ یو شخړه راپیداشو چي په هغه کی پنځه مغازه دارانو یا هتیوالو زخمیان شول .

16.30:شورشیا نو په درنی یا ثقیله وسلی با ندی د پولیسوپه یو کا روان باند ی چي د محمدآغی داولسوالی له لاری په تیریدو وه برید وکړچی په دی حمله کي داحسان الله په نوم یو پولیس زخمی او وروسته بیا هغه خپل ژوند دلاسه ورکړ .




Guardian graphic. Source: TBIJ

**21.40:** په کوټه سنګی کی د سړک دغاړی یو اینبودل شوی ماین دحکومت پر یوه واسطه باندی وچاودید ل .

**22.00:** طا لبا نو دا رزګا ن ولایت د کا س (Khas) په اولسوا لی کي د پولیسو اود افغان د پوځ پر پوستو با ندي بریدونه ترسره کړل چي د هغه په ترڅ کی (لس) امنیتی ځواکونو ټپیان شول اوبیا وروسته دامریکی د متحده ایالاتو دهوایی ځواکونو په هوایی حملو سره کوم چی هلته ترسره شول زیا تو شورشیا نو خپل ژوند دلاسه ورکړل .

**22.15:** په افغا نستا ن کی د متحده ایالاتو تر مشری لاندی د« نا تو» یو خبری منبع له خوا یو بیا ن خپورشو چي په هغه کي هغوی دغزنی ، هلمند اود ارزګان په ولایا تو کي د (۲۰) ځلو حملو څخه زیا تی هوایی حملي ترسره کړي اود شورشیا نوپر اهدافو اوتم ځا یونو باندی بمونه غورځولی دی اوهمدارنګه په خبر پا نه کی راغلی دی چي دا فغا ن هوایی ځواکونه هم لږ ترلږه دوه مستقل هوایی برغل ترسره کړی چی دهغه په ترڅ کی شپږ تنه وسله وال شورشیا ن خپل ژوند دلاسه ورکړی دي .

**22.55:** د خاشرود په اولسوالی د زنجیر په سیمه کی دطا لبا نو پواسطه سره چی پریو امنیتی پوستي با ندی برغل ترسره شو نودهمدی برغل په ترڅ کی دری پولیسا ن ووژل شول اودوه نور پولیسان ټپیا ن شول .

**23.00:** نا پیژندل شوی وسله والو دننګرهارولایت دخوګیانی په اوسوالی کي دهلکانو په یوه ښوونځی باندی وسله وال تیری وکړل چی دهغه په ترڅ کی دښوونځی لابراتوار اور واخیست دښوونځی په صنفونو کی ماینونه کیښودل شول اودنوموړی ښوونځی ددری تنو محا فیظینو سرونه دهغو له تنو څخه پریکړل شو چی یو ددی ګارد څخه حضرت الله وه چی دخپل پلارسره سر یی بدل شوی وه اوبل محمدقربان وه چی هغه دلسو کوچنیانو پلار وه ، ملک مکی چی دهغه سیمی یو مخور او مشر وه لمړنی کس وه چی خپل ځان د جنګ دی میدان ته ورسول هغه وویل چی مونږ ددی دری تنو قربا نیا نو سرونه دهغو په تنه کی سره کیښودل او بیا مو هغوی ښخ کړل .



دښوونځي دری ساتونکی هریو محمد قربان حضرت الله ، اوعزت الله دنامعلومو وسله والو په حملی سره ووژل شول



**هغه ښونځی چي په ننګرهاکی د یاغیانو تر حملی لاندی ویجاړ شو**

**23.05:** د ا فغا ن د هوایی برید  په نتیجه کي  چي د فراه د بالابلوک  په اولسوالی کي دطالبانو پر تم ځا یونو با ندی   ترسره شو نو د هغه په ترڅ کی  دطالبانو څلور جنګیالی مړ او څلور نوریی ټپیا ن شول .

ددی زما نی جدول (Timeline) یا زمانی کرښی انټرنتی  بڼه دلته موندل کیدای شی. طبعاً دغه  ورځنی سمدلاسه  آنځور  یواځی د تا وتریخوالي  یوه  جزيي  یا قسمی  برخه تمثیلوی -  د ملګرو ملتونو  په وینا سره  ښځی او ما شومان  اودملکی خلکو له نیمیا یی برخی څخه زیات ددی جګړی  په لمړی نیمیا یی کی  ووژل شول . اما دجون دمیا شتی په « دیرشمه» کی داسی آتکل کړ شوی  چی زیات خلکو دمستقیم  صد ما تو دراپیښید و څخه  تیښته کړي دیٌ په لویو ښارونو کی  داسی کوم  ستر برید  نه دی تر سره شوی  . پرملکی خلکوخونړی بریدونه لکه ځنګه چي دوی څپړلی دی  پرهغو کوم چي د تحصیل دکارکولو اویا داستراحت  په وخت کی وه ترسره شوی  چی دهغه په نتیجه کی خلک مړ ټپی اویا بی ځایه شوی دي اوداځکه چي دهغه ریښتنی ګذارش له دی نه چی ژورنالستا ن او خبریالان د طا لبا نودتروا ک لاندی سیمو ته تللی نشی  په لاس کی نشته . حتی تر دی چی دا پخپله دتاوتریخوالی دیومهم لست  هیرول دی یعنی دجون دمیاشتی  کوم چی په لس ګونو بریدونه ممکن ترسره شوی وي اما دلته یواځی  دیوه برید ګذارش دنړیوال  په کچه اوستاندارد سره ترلاسه شوی  دي  اویوڅه نور راپورونه یی د ا فغا نستا ن په مطبوعاتو کی په نشررسید لی دی اوترنن ورځی پوری بی له کوم پاملرنی زیات نظامی جزوتامونه یا سیمیز ټولني دزیانمن کیدو څخه  په امن کی لیری پاتي شوی  لکه هغسی چی په نورو

ورځو کې خونريزی دوام لرل اما په دې ورځ کې جنګ ودرېد اونړيوال دهغه روند له ليرې ځارل .

---------------------------------------- **په درناوی** «2018-10-22»